# د پښتو ورومبۍ علامتي افسانه

## The first Symbolic Short story in Pashto

Syed Yasir Ali Shah *

Prof.Dr.Roh Ullah **

**Abstract**

Symbolic Short Story was indeed a product of post industrial era in modern literature. It came to Pashto literature in the same century but there is a considerable argument about the first ever symbolic short story. Pashto literature has got many short stories' giants and writers of outstanding caliber who had practiced symbolic fiction. In this paper an extensive effort is made to discover about the pioneer of this very genre. The references in this piece include an interview along with other authentic sources. A conclusion is also drawn in the light of the arguments and logical sequence of events and time.

**Key Words**: symbolic, postindustrial era, symbolic fiction

پښتو ادب ته افسانه په کامل انداز کښې د شلمې صدۍ په دوېمه لسيزه کښې راغله چې ګڼ شمېر افسانه نګارو افسانه ليکل شروع کړه او اولس ورو ورو د افسانې سره بلد ېدو. دغه شان د افسانې په هيئت، ماهيئت، کېفيت او د مقصديت په حواله هم مباحثه مېنځ ته راغله. دغه مباحثو د افسانې کړۀ وړۀ نور هم روښانه کړۀ، هسې خو قيصه د انسان جبلت دے چې يا قيصه اوروي يا به قيصه کوي او يا به ځان په قيصه پوهوي او هم دغه جبلت او فطرت د قيصې په پرمختګ او پرمختګ کښې لوے کردا ادا کړو. دې خبره کښې هېڅ شک نشته چې کله د قيصې هنر کمال ته نۀ ؤ رسېدلے نو د قيصې په هيئت باندې اولسي رنګ غالب ؤ. دغه شان پښتو ادب هم ؤ. د افسانې نه وړاندې د پښتون قام په حجرو او مجلسونو کښې به قيصې کېدې او د ټولې ورځې ستوماتيا به ئې پرې له مېنځه اوړه، دغه قيصې به

---

* PhD Scholar Pashto Department UOP

** Chairman Pashto Department UOP

عموماً په منظوم انداز کښې وې چې فن تکنیک به ئې داستان ته نزدې ؤ او دا قیصې به عموماً رومانوي وې، لکه آدم خان درخانۍ، یوسف خان شېربانو، دلے شهۍ، فتح خان رابعه، موسٰی خان ګل مکۍ، شېر عالم مېمونۍ وغېره. دې قیصو هم د لوستو او اورېدو ذوق برقرار ساتلے ؤ. چې دې اوان کښې افسانه هم رازرغونه شوه او په تېزۍ سره ئې د مقبولیت او محبوبیت سفر شروع کړو. د روماني داستانونو او دغه شان د پېریانو، دېوانو او شهزادګانو نه راوتې قیصه د حقیقت پسندۍ په لور راغله او د کنډې جینۍ نه پس دغه رفتار نور هم تُند شو. او د افسانې په کاروان کښې بلها نومونو شریک شو. دا هغه دور ؤ چې د انساني ایجاداتو رفترا هم تًند کېدو او د هغې اثرات په ادب هم پرېوتل او د پرېس راتلو سره د طویلو قیصو نوعیت هم بدل شو او مختصره قیصه په رسالو کښې هم لیکل شروع شوه، که اوکتے شي نو د پښتو افسانې د وړومبي دور زیات تر افسانې په رسالو کښې چاپ دي. افغان، پښتون، او د نن پرون کښې دا افسانې چاپ کېدې. او دغه افسانې زیات تر قام پرستو لیکلې. چې تعلق ئې د ازادۍ تحریکونو سره ؤ. په دې حواله ډاکټر اعظم اعظم لیکي:

> "تر کومه پورې چې د پښتو افسانې د ځائنګون او ودې او د هغې ورځو د سیاسي حالاتو د تړون خبره ده په دغه لړ کښې دا نکته واضح کول ضروري دي چې نۀ یوائې افسانه بلکې د پښتو واړه نوے ادب د شلمې صدۍ د ازادۍ د سیاسي تحریکونو په ردعمل کښې ځائېګېدلے دے".[1]

هم دغه وجه ده چې دغه دور کښې څومره افسانې لیکلې شوې دي نو په هغې د مقصدیت رنګ غالب ؤ. خو لاافسانه لیکونکي د افسانې د هنري تکنیک سره دومره بلد نۀ وه. او د ډرامې او اولسي قیصو انداز پکښې رابرڅېره ؤ. خو د برصغیر د تقسیم نه پس هر څو که د افسانې انداز هم هغه شان بیانیه ؤ خو د افسانې هنري تکنیک د بلوغت په لور مزل ډېر په تندۍ کولو، دغه شان علامتي پېرایه هم په افسانه کښې شامله شوه. هسې خو د علامتي ادب یو خاص تحریک چلېدلے دے. چې په هغې کښې افسانه هم شامله وه او دا د مغرب نه راوتے یو مقبول تحریک ؤز خو پښتو افسانوي ادب ته علامتي انداز د تحریک په طور یا د یو تحریک له وجې قطعي نۀ دے راغلے. بلکې د وطن د څه سیاسي حالاتو او د څۀ مشرقي او لساني روایتونو دغه علامات مېنځ ته راوړي وو.

پښتو ادب ته افسانه کله راغلې ده په دې حواله خو کافي مباحثې شوې دي خو پښتو ادب ته علامتي افسانه کله راغلې ده او وړومبۍ علامتي افسانه د چا وه او کله ليکلې شوې وه نو په دې حواله هغه شان بحثونه نۀ دي شوي. د پښتو ادب په افسانوي ادبکښې د علاماتو په حواله بحث هله شروع شو چې کله يو څو افسانه نګارو په شعوري توګه باقاعده علامتي افسانې ليکل شروع کړل. نو د نقادانو هم دې طرف ته پام شو. او لټون ئې شروع کړو چې د فني تکنيک په اعتبار سره په شعوري طور يا غېر شعوري طور وړومبۍ علامتي افسانه چا ليکلې ده. د دغه بحث بنياد سعيد ګوهر کېښودو چې د فاروق سرور په وړومبۍ افسانوي مجموعه بانډېد ئې مقدمه ليکلې ده. د فاروق سرور دا کتاب د فروري په مياشت کښې په کال ۱۹۸۸ء کښې د پښتو کاروان کوئټې له خوا چاپ دے.

په دغه کتاب د سريزې په طور سعيد ګوهر ليکي:

"په دې کتاب کښې چې کومې افسانې شاملې دي په هغو کښې يو څو علامتي افسانې هم شته. د بلوچستان د پښتنې سيمې ځوان او خوش فکر زلمي فاروق سرور ته دا اعزاز حاصل دے چې په ټوله پښتونخوا کښې د علامتي افسانې د تذکرې ابتداء د دۀ له نامې څخه کېږي".[2]

په "دريه" افسانوي مجموعه کښې وړومبۍ علامتي افسانه "مجرم" دے. چې پکښې يو کارغۀ د تجسيمي علامت په حېث راوړے شوے دے. د سعيد ګوهر د مؤقف په تائيد کښې محمود اياز او عمر ګل عسکر، د "سکروټې" کتاب په سريزو کښې هم دا خبره تکرار کړې ده چې په ليکونکو کښې ئې شدت هم محسوسېږي. بل طرف ډاکټر زبېر حسرت د علامتي افسانې د اوليت تاج طاهر افريدي ته ور په سروي او د طاهر افريدي د علامتي انداز په حواله خپل کتاب نقش کښې ليکي:

"زما په خيال د "لاره کښې ماښام" تقريباً هره افسانه هم دغه خاصيت لري او ځکه ما هم په دغه کال ۱۹۸۷ء کښې يو تبصره نما مقاله د طاهر افريدي افسانې "د اميجري علامئيت او تجريديت نمونې"، د "لاره کښې ماښام" په رڼا کښې ليکلې وه چې فهيم سرحدي صاحب مرحوم و منور خېل ترتيب کړے کتاب طاهر اپريدے "د ښکلا په سفر" ۱۹۹۲ء کښې چاپ کړې ده. او زما په خيال وړومبے ليکونکے زۀ ؤم (دا دې د ځان د ستائنې په زمره

کښې نۀ راځي ځکه چې زۀ حقیقت بیانوم). چې ما طاهر افریدي صاحب ته د علامتي تجریدي او امیجري افسانه نګار وئېلي وو. هغه هم هسې او هوائي نه بلکې په پوره او پخو دلیلونو مې خبره کړې ده. او دغه ثبوت او دلیل درنو لوستونکیو له هم د طاهر افساني مجموعې لاره کښې ماښام او بیا هغه ماښام دے، کښې په لاس ورتلے شي. او د دې برعکس د ښاغلي فاروق سرور وړومبۍ افسانوي مجموعه "دریه" په کال ۱۹۸۸ء کښې د "لاره کښې ماښام" نه یو کال پس شائع شوې ده. په دې لحاظ هم او په هر لحاظ ښاغلے طاهر اپرید ے د ښاغلي فاروق سرور نه ډېر مشر افسانه نګار دے (د ښۀ او خراب په تله به ئې نۀ تلو) او زما په خیال د وړومبۍ علامتي افسانه نګار دا بادرۍ نخښه د طاهر صیب په سینه لګول پکار دي".[3]

د دې دومره اوږدې حوالې راوړو پس منظر دا ؤ چې دا خبره واضحه شي خو ډاکټر زبیر حسرت سره د دې چې وړومبۍ علامتي افسانګار طاهر اپرید ے ګڼي خو د هغۀ افسانې نوم د لیکلو نه ئې ډډه کړې ده چې د دۀ په خیال د طاهر افریدي په "لاره کښې ماښام" افسانوي مجموعه کښې دا افسانه علامتي ده. خو دغه بحث کښې اسیر منګل د ډاکټر زبیر حسرت تائید کوي او باقاعده د هغه افسانې نوم اخلي. چې د اسیر منګل په نزد وړومبۍ علامتي افسانه "غلۀ مخونه" ده. اسیر منګل لیکي:

> *"غلہ مخونہ میں علامتی انداز میں وطن عزیز کی موجودہ صورتحال کا ایک افسوس ناک تجزیہ پیش کیا گیا ہے۔ "آج ہم ایسے حالات میں رہ رہے ہیں کہ یہاں ہر شخص چور بن چکا ہے اور جو چوری نہیں کرتا ان کی زندگی اجیرن ہو جاتی ہے۔ جبکہ قانون محض بااثر افراد کی گھر کی لونڈی بن کر رہ چکا ہے"۔ یہی افسانہ فروری ۱۹۸۳ء میں ماہنامہ پشتو پشاور میں شائع ہوا جسے پشتو کا پہلا علامتی افسانہ قرار دیا جا سکتا ہے"۔*[4]

یعنې اسیر منګل د پښتو وړومبۍ علامتي افسانه "غلۀ مخونه" ګڼي چې "لاره کښې ماښام" کښې چاپ ده. اګرچې "لاره کښې ماښام" مجموعه کښې وړومبۍ علامتي افسانه "اوراورکي" ده، غلۀ مخونه په دغه افسانوي مجموعه کښې دوېمه علامتي افسانه ده. دغه شان ارباب رشید احمد خان هم وخته تر وخته افسانې لیکلې وې چې په هغې کښې علامتي

افساني هم وي. چې وروستو بیا د انګازې په نوم چاپ دي، د شاد یوسفزي په نزد وړومبۍ علامتي افسانه "علاج" ده. چې د "انګازې" په کتاب کښې چاپ ده. اګرچې د تکنیک په اعتبار سره دغه افسانه کامله علامتي افسانه نۀ ده بلکې نیم علامتي رنګ لري. په "انګازې" افسانوي مجموعه وړومبۍ باقاعده علامتي افسانه، "مرزې والوتې" ده. د ارباب رشید احمد خان د اولیت په حواله شاد یوسفزے لیکي:

> "د ارباب رشید احمد خان انګازې نومې کتاب د طاهر افریدي غلۀ مخونه نه کم نه کم لس کاله مخکښې ضرور چاپ دے او د هغوي علامتي افسانه علاج د دغه مجموعې یعنې انګازې حصه ده. نو ځکه وړومبۍ علامتي افسانه هم دغه د ارباب رشید احمد خان علاج ده".[5]

د انګازې په کتاب تاریخ اشاعت نشته خو مونږ د هغه وخت د معاصر لیکونکو نقادانو د لیک او اظهار خیال نه اندازه لګولے شو. د ډاکټر اعظم اعظم کتاب پښتو افسانه تحقیق او تنقید چې په کال جولائي ۱۹۷۲ء کښې چاپ دے د ارباب رشید احمد خان ذکر ۀ په داسې انداز کوي.

> "د انګازې اکثرې افسانې په یوه وړه پیمانه د خپل ماحول د کردارونو د یو مخصوص فطرت یو اړخیزې نفساتي مطالعې دي او د هرې افسانې په خاتمه د هغې کردار د مخصوص مزاج هغه عجیبه اړخ زمونږ د سترګو وړاندې اودرېږي".[6]

یعنې د دې اقتباس نه دا اندازه کېږي چې انګازې کتاب د کال ۱۹۷۲ء نه وړاندې چاپ دے. دغه شان د طاهر افریدي "غلۀ مخونه" نه د ارباب رشید احمد خان علامتي افسانه مخکښې چاپ ده. خو خبره په دې ځاے نۀ اودرېږي. د قلندر مومند افسانه "اباسین نه تر کابله" چې په ګجرې کښې چاپ ده خو دا افسانه په کال ۱۷ جنوري ۱۹۲۴ء کښې په بانګ حرم اخبار کښې هم چاپ ده. په دې اساس د ارباب رشید احمد خان نه وړاندې د قلندر مومند دغه علامتي افسانه د هنر د کمال سره موجوده ده خو د دغه یادې افسانې نه وړاندې د رهبر اخبار مجله چې د مهدي شاه باچا په ادارت کښې په کال ۱۵ مئی ۱۹۵۷ء کښې په هغې کښې یوه افسانه "د زرو بوټي" په نوم چاپ ده. چې کامل علامتي رنګ لري. دغه افسانه

ډاکټر زبېر حسرت چې د اجمل خټک د افسانو کوم کتاب "پښتو او نورې افسانې" په نوم مرتب کړے دے. په هغې کښې هم چاپ ده. د دې افسانې په حواله ډاکټر زبېر حسرت ليکي:

> "د زړو بوټے" افسانه کښې اجمل صاحب غالباً چې د پښتو افسانوي ادب کښې په وړومبي ځل د علامتي افسانې ليکلو يوه کامیابه هڅه کړې ده او دې افسانې "د زړو بوټے" د پښتون قوم د زېر کولو او غلام ساتلو موضوع خپله لمنه کښې رانغښتې ده".[7]

خو عجيبه خبره دا ده چې ډاکټر زبېر حسرت يو طرف ته دا علامتي افسانه ګڼي او بل طرف ته د وړومبي علامتي افسانې ليکونکي تمغه د طاهر افريدي په غاړه کښې اچوي. دا مذکوره څومره افسانه نګار او علامتي افسانې چې وړاندې شوې دي نو په هغې کښې د ټولو نه زړه علامتي افسانه هم دا د "د زړو بوټے" دے. چې په کال **۱۵** مئی **۱۹۵۷**ء کښې چاپ ده. خو د علامتي افسانې دا لړۍ نوره هم اوغزېږي چې کله "د سرو غاښ" د مفلس دراني افسانه شيريل اوکتے شي. چې دا افسانه په کال **۱۹۵۱**ء کښې ليکلے شوې ده. خو د سرو غاښ کتاب په کال **۱۹۹۵**ء کښې چاپ دے. د مفلس دراني دې دعوې ته که په غور اوکتے شي نو اندازه ترې کېدے شي چې د سرو غاښ زيات تر افسانې هم د پاکستان جوړېدو په وړومبۍ لسيزې کښې ليکلې شوې دي او څۀ افسانې د تقسيم نه وړاندې هم ليکلې شوې دي. ځکه خو ډاکټر اعظم اعظم چې د پاکستان د جوړېدو نه مخکښې د کومو افسانه نګارو ذکر کړے دے نو په هغې کښې مفلس دراني هم دے. د ډاکټر اعظم د اقتباس وړاندې کولو نه مخکښې دا خبره ضروري ده چې "افغان" رساله د پېښور نه خپرېدونکې يوه داسې رساله وه چې د دې چلونکے راحت زاخېلي ؤ. ډاکټر اعظم اعظم ليکي:

> "د افغان په باقاعده ليکونکو کښې چې د چا نوم ډېر ځلانده دے هغه د شمس الدين مفلس دراني دے. د مفلس دراني محبوبه موضوع د هغې کردار نه تاوېږي کوم چې معاشره په خپله ارته لمنه کښې ځاے نۀ کړے شي او د حُسن د بازار تنګه کوټنړۍ ورله پناه ورکړي".[8]

د دې اقتباس نه دا اندازه په احسن طريقې سره لګېدے شي چې د تقسيم نه وړاندې هم مفلس دراني باقاعده افسانې ليکلې او بل طرف ته "د سرو غاښ" په افسانوي مجموعه کښې د شېرپل په حواله هغه خپله ليکي چې دا په کال **۱۹۵۱**ء کښې د حويليا په مقام ليکلې

شوې ده خو د دې نه دا خبره ثابتېږي چې د پښتو افسانوي ادب وړومبۍ علامتي افسانه شېرپل ده چې پښتو افسانې د علامتي افسانې په حواله پاپلې پل واخستو.

# حوالې

[1] اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو افسانه تحقیق او تنقید، چاپ کال جولائي ۱۹۷۲ء ص ۱۰۲

[2] دریه، مقدمه سعید گوهر، چاپ کال ۱۹۸۸ء، خپرونکے د پښتو کاروان کوئټه، مخ ۱۰

[3] حسرت، زبیر، ډاکټر، نقش، سکروټې، چاپ کال ۲۰۱۰ء مخ

[4] منگل، اسیر، پشتو افسانے کے سو سال، چاپ کال ۲۰۰۲ء، ص ۸۸

[5] یوسفزے، شاد، پښتو علامتي افسانه، مشموله پاڅون، مخ ۷

[6] اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو افسانه، مخ ۱۲۲

[7] حسرت، زبیر، ډاکټر، پښتو او نورې افسانې، چاپ کال ۲۰۱۲ء، مخ ۳۸

[8] اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو افسانه، مخ ۱۱۲

**Refrences**

(1)azam mohamad azam doctor pukhto afsana tahqeeq ao tanqeed chpa kaal july 1972 page 102
(2)darya muqadima saeed gohar chap kaal 1988 khprownke da pukhto karwan kowita page 10
(3) hazrt zubair doctor"naqshoona"skrwati chpa kaal 2010
(4)mangal aseer"pushto afsany k soo saal chpa kaal 2002 page 88
(5)yosafzay shaad pushto alamati afsana masmoola pasoon page 7
(6)azam azam doctor pakhto afsana page 114
(7)hasrat zubair dictor pkhto ao nori afsani chap kaal 2012 page 37
(8)azam azam doctor pukhto afsana page 116